# ” د عبدالرحمان بابا په کلام کښې د موهومي تصوراتي توکو درک او څرک“

# “Superstitious and Irrational Beliefs and Faiths Reflection in the Poetry of Rahman Baba”

**Dr. Shakeel Ahmad** ⋆
**Email:** shakeeluop@gmail.com
**Phone #** 0321 9860765
**Dr. Sajjad Elahi** ⋆
**Email:** sajjad.elahi@icp.edu.pk
**Phone #** 03038790153

Issn 2304-1463

**ABSTRACT**:

Unnatural, idealistic ideas, thought, events are termed as superstitious in nature. These types of thoughts and beliefs may easily be found in almost all the societies around the global. This reflects the evolutionary process involved in the traditional & societal life. Literature, the mirror of life, also reflects the same. Abd Ur Rahman Baba the most prominent classical poet has his own school of thought, way of expression, attitude, also discussed the same phenomenon in his poetry. By this way he had tried to expose the common perception, cultural and traditional attitude and manners of the people. In this paper the same aspect of the poetry of Rahman Baba will be discussed in depth.

Key words: عبدالرحمان بابا ، عقيدې، توهماتي تصوراتي توکي

انساني ټولنه په خپل اولني دورونو کښې د سائنسي، تکنيکي او مشيني ايجاداتو نه بې برخې وه - او د تهذيب او مدنيت څخه لرې وه - او د ترقۍ رفتار ئې کم وۀ، نو مجبوراً به ئې په کائنات کښې د موجوداتو په ظاهري شکل اکتفا کوله - او د هر څيز متعلق به ئې خپل فکرونه، تصورات، توهمات او عقيدې پخولې - دغه فکرونه، تصورات، توهمات او عقيدې به په هره ټولنه کښې د عامو ، ساده او

---

⋆ Lecturer, Department of Pashto, University of Peshawar

⋆ Lecturer, Department of Pashto, Islamia College University, Peshawar

نالوسته کسانو د سطحې او برخېرن ذهن په نتيجه کښې مخې ته راتللې ـ او دوي به د خپل ژوند يوه لازمي برخه ګڼله ـ

پښتو لغت دریاب د توهم معنی داسې کوي:

"وهم ـ اندېښنه ـ وسواس ـ ګومان ـ شک ـ" (1)

ډاکټر بادشاه روم علي خېل دریاب لیکي چې:

"توهم ـ ته عربۍ کښې "تشاوم یا طیرة"" وائي ـ چې د بدشګون، بدګمانۍ او سپېرۀ توب معنې ورکوي ـ دا د نېک فالۍ ضد دے، چې عکس التفاؤل ورته وائي ـ"(2)

ښاغلے داور خان داؤد لیکي چې:

"په فطري، ما فوق الفطري (Super Nature) او غېر حقیقي خبرو، څیزونو یا واقعاتو یقین او باور کولو ته توهم پرستي وئیلے شي ـ"(3)

"دا په عام ډول اصطلاحاً هغه عقیدې دي، چې په منطقي دلائلو، عېني واقیعتونو، علمي معلوماتو بنا او ولاړ نۀ وي ـ او بې له دې چې کوم حقیقي، عېني، منطقي او علمي بنسټ اولري ـ"(4)

توهمات پښتو پوهانو په بېلابېلو نومونو یاد کړي دي ـ لکه انګېرنې، کرکې، کږنې، عقیدې او خرافات وغېره ـ دا د شعور د کمي د وجې مخې ته راغلي دي ـ او تقریباً په هره هغه ټولنه او اقوامو کښې شتون لري کوم چې د تهذیب او مدنیت نۀ لري او ببرته پاتې شوي وي ـ دغه ټولنې د پخواني ژواک مطابق ژوند کوي او خپل پخواني روایات برقرار ساتي ـ

"اولسي عقیدې او موهومي خرافات لکه کرکه، انګېرنه، شګون (شګوم)، خوب لیدل، فال نیول، تعویز، دم زیارت ته تګ، دعا، ښېره، دهما سېورے، عنقا مرغۀ، سېمرغ مرغۀ، بلا (شېخۍ، شیشکه) دېو، ښاپېرۍ، ښۀ ستوري، بخت او داسې نور موضوعات د انسان د پېدائښت د لومړي سپېده داغ څخه تر نن پورې په اولسونو کښې د یوې عقیدې او فکر په توګه شتون لري ـ دا عقائد په حقیقت کښې د یو زیات شمېر پېښنو مسؤل ګڼل کېږي ـ"(5)

د وخت تېرېدو سره سائنس دغه توهمات، فکرونه او عقائد تر ډېره حده ختم کړي او يا ئې کم کړي دي- او خلق لګيا دي په قلاره قلاره د دغه قسمه تصوراتي او موهومي قيصو نه رابهر کېږي-

توهمات د يو قام او اولس ماضي بيانوي او د دوي د تمدني ژوند او ارتقائي سفر عکاسي کوي- پښتو ادب کښې که يو طرف ته دغه موهومي تصوراتي توکي اولسي ادب د يو فکري او ثقافتي امانت په حېث په خپله لمن کښې نغښتي ساتلي دي ، چې په افسانو، قيصو، حکايتونو او اولسي سندرو کښې څرګند ليدے شي نو بل اړخ ته د کلاسيکي او اوسني جديد دور شاعرانو او ليکوالو په ليکونو کښې هم د اولس دغه موهومي تصوراتي توکي او عقيدې د فرهنګ د مينه والو د پاره وړاندې کړي دي-

عبدالرحمان بابا څوک چې د پښتو کلاسيکي شاعرانو په ټولګي کښې يو ځانګړے او منفرد اسلوب، انداز او طرز لري، او هم دغه اسلوب ، انداز او طرز ورته په عوامو او خواصو کښې يو شان مقبوليت او شهرت ور نصيب کړے دے، هم ګڼ شمېر توهماتي او تصوراتي توکو له د خپل کلام په غېږه کښې ځاے ورکړے دے او تل د پاره ئې په خپل کلام کښې سمبال کړي دي- او د يو اولس د خلقو عمومي ذهنيت، کلتور او تمدن ئې په ښۀ ډول ښکاره کړے دے-

اوس راځو هغه موهومي تصوراتي توکو ته، چې رحمان بابا په خپل کلام کښې سنجولي او سمبال کړي دي-

سمندر:

سمندر چې اوښتي شکلونه ئې سمندور، سمندل، سمندول او سمندوت دي، يو فرضي، خيالي او روايتي چينجے دے، چې مرغ اتش خور هم ورته وائي-

پښتو اکېډيمي لغت ليکي چې:

> "دا لفظ په اصل کښې "سام+اندر" دے "سام" اور ته وائي او "اندر" په فارسۍ کښې دننه ته وائي-"(6)

> "د زرتشت د عقيدې مطابق کوم ځاے چې سل کاله اور بل شي، هلته پخپله راپېدا کېږي- اور کښې ژوند کوي او د اور نه په اوښکلو مري- د څرمنې نه ئې ټوپۍ جوړېږي- دغه ټوپۍ چې خبرنې شي، په اور کښې اچولو سره صفا کېږي-"(7)

دغه رنګ عوام د دې خيالي او روايتي چينجي متعلق مختلف تصورات او عقيدې لري چې د حقيقت سره ئې هېڅ پُوله پتے نۀ دے شريک-

د فارسۍ او اُردو شاعرانو په شان پښتو شاعرانو هم په خپلو شعرونو کښې د دغه تصوراتي چينجي سمندر نوم اخستے دے- عبدالرحمان بابا هم په خپل يو شمېر شعرونو کښې د سمندر يادؤنه کړې ده لکه:

ږدي پـــه خولـــۀ د ســـمندر مُهـــر د مومـــو
څـــوک چـــې مـــا منـــع کـــوي د عشـــق لـــه شـــوره[8]

د بلبلـــــو و چمـــــن وتـــــه پـــــرواز وي
ســـمندر کـــړه مـــدام اور وتـــه اهنـــگ[9]

پـــه دنيـــا کښـــې د دنيـــا گوشـــه کنـــار شـــه
ســـمندر غونـــدې پـــه اور کښـــې گلعـــزار شـــه[10]

ققنس:

چې په ققنوس، اور مارغۀ، موسيقار او ډېر مارغۀ هم ياد شوے دے، يو روايتي، نکلي او افسانوي مارغۀ دے-

"د فارس خلق دې ته "اتش زن" او د هند خلق ديپک لاټ وائي- په انگرېزۍ کښې دې ته فينکس (Phoenix) وائي او د چين خلق ئې (Feng huang) بولي-"[11]

د ځيني رواياتو مطابق د دغه مارغۀ مښوکه اووۀ سوري او بيا د ځينې رواياتو مطابق درې سوه او شپېتۀ سوري لري، چې پرې د هر قسمه راگ يا وزن اواز ويستلے شي- د موسيقۍ علم هم د دې نه وتلے دے- دا مارغۀ د پنځو سوو نه تر زر کالو پورې عمر لري- د عمر په پائي کښې ځانته لرگي راټول کړي او بيا په دغه لرگو د کښېناستو سره خپلې لوے لوے وزرې وهل شروع کړي ، چې ورسره دغه لرگي اور واخلي او بيا پکښې دغه مارغۀ اوسوزي او ايره شي- د باران سره د دغه ايرو نه اگۍ پېدا شي او دغه اگۍ نه بل نوے ققنس پېدا شي-

پښتو اکېډيمي لغت د لرگو د اور اخستلو وجه د ققنس خوږ اواز ښائي او ليکي:

"چې د مرگ وخت ئې راشي نو اوچ ډکي لرگي ځانته جمع کړي او پکښې کښېني او په مستۍ کښې سندره شروع کړي- او هر کله چې د "پيک راگ" شروع کړي نو په دغه لرگو اور اولگي او دے پکښې اوسوزي او ايره شي-"[12]

پښتو ټپه دغه تصوير داسې خوندي کوي:

عالمه حال مې د ققنس شو
په صحرا ډکې تولوم ځان پرې سېزمه

د دغه افسانوي، نکلي او روايتي مارغۀ يادونه عبدالرحمان بابا په خپل يو شعر کښې داسې کړې ده:

هر مارغۀ په خپله جاله کښې هما دے
که کارغۀ که مېنګېرک دے که ققنس[13]

عنقا:

عنقا چې په فارسۍ کښې ورته سيمرغ هم وائي، يو ورک او خيالي مارغۀ دے، چې د اوږدې مرۍ (عنق) له وجې عنقا بللے شي. په دې فرضي مارغۀ پسې يو شمېر بې بنياده قيصې مشهورې دي.

علي محمد منګل ليکي چې:

"عنقا د خلقو د عقيدې له مخې..... يو ورک خيالي او فولکلوري مارغۀ دے. وائي چې ډېر لوے دے. د دوي په پوهه دا مارغۀ د قاف په غرۀ (کوهِ قاف) کښې اوسي."[14]

چونکې دا يو ادم خور ځناور دے نو ځکه د وينو ښېلو سمبل هم ګڼلے شي. دا مارغۀ چا ليدلے نۀ دے نو ځکه عنقا د ناياب، ناپيد او معدوم په معنٰی هم استعمالېږي.

د عنقا مارغۀ ذکر د عبدالرحمان بابا په يو شمېر شعرونو کښې په نظر راځي لکه:

که خپل زړۀ غواړې له چا
ځان صياد کړه د عنقا[15]

چې د دهر د يارانو وفا غواړې
صيادي به د عنقا کوې تر کومه[16]

هره چار چې تر وخت تېره شي عنقا شي
عنقا نۀ دے په دام نښتے د هيچا[17]

دام دې هېڅـــوک نـــهٔ ږدي د دنيـــا و رهګـــزر تـــه
ښـــکار بـــه اوکـــړے نـــهٔ شـــي د ســـېمرغ او د عنقـــا[18]

د تـــــدبير پـــــه دام پـــــه څشـــــکله کېښـــوځي
معشـــوقه چـــې مـــې پـــه مثـــل د عنقـــا شـــوه[19]

هُما:

دا يوه مشهوره، خيالي او روايتي مرغۍ ده، چې چا ليدلې نۀ ده، خو وائي چې په هوا کښې ګرځي او په ناسته ډېره کمه په نظر راځي۔ اګۍ هم په هوا کښې اوچوي۔ او بچي هم په هوا کښې راوړي۔ د دې نېکمرغه مرغۍ خوراک هډوکي وي۔

د دې مرغۍ پحقله دا هم وئيلے کېږي چې د چا په سر تېره شي او يا ئې په سر سيورے پرېوځي نو بخت ئې بېداريږي او دولت، اقتدار او بادشاهي ئې په نصيب کېږي۔

د عبدالرحمان بابا په ديوان کښې ځا ے په ځا ے د دغه موهومي مرغۍ ذکر په نظر راځي لکه:

څـــــهٔ بزرګــــي بــــه ئــــې د بــــاز و د همــــا وي
زبــــاني ذکـــر کــــه ســـل رنګــــه کـــړه خــــراړه[20]

څـــــهٔ عجـــب دي چـــې همـــا ئـــې پـــه دام نښـــلي
هـــــر صـــــياد څخـــــه چـــــې دام دے د اخـــــلاص[21]

ســـتا د بـــاغ و د بـــڼ زاغ پـــه نظـــر زمـــا همـــا دے
پـــه نظـــر زمـــا همـــا دے ســـتا د بـــاغ و د بـــڼ زاغ[22]

چـــې د تـــورو زلفـــو ســـيورے پـــه چـــا اوشـــي
هغـــه کلـــه لـــه همايـــه محبـــت کـــا[23]

مرتبـــه بـــه دې د مـــچ او د مېـــږي شـــي
زړۀ پـــه غـــوړو غوښـــو مـــهٔ تـــړه همايـــه[24]

د هما په څېر طغمه کړه اوچ هدوکي
لکه مچ طلب د شهد و شکر مه کړه[25]

دا خو بخت دے څوک ئې سپین و څوک ئې تور کړۀ
ګڼه عین لکه زاغ هسې همائے دے

لکه فرق چې د هما و د زاغ نشته
هم دغه دلیل د شاه او د ګدائے دے[26]

بَلا:

هر څو که بلا د تکلیف، مصیبت او آفت وغېره په معنو کښې استعمالېږي خو د اولسي عقیدې تر مخه بلا په یو مجسم شکل کښې موجود ده۔ بلا په بېلا بېلو ځهرو کښې څرګندېږي او خلق یروي، زړۀ ترې اوباسي او وژني ئې۔ بلا په چاقو چاړۀ یا وسله نۀ مري۔ د بلا د نوم سره کله کله توره، شیشکه، شېخئ او بَوُ وغېره لفظونه د سابقې په طور استعمالېږي لکه توره بلا ، شیشکه بلا ، شېخئ بلا او بَوُ بلا وغېره۔

د بلا پحقله دا عقیده هم موجود ده چې که چرې وینه ئې توې شي نو د هر څاڅکي نه ئې په زرګونو نورې بلاګانې پېدا شي۔ په یو شمېر اولسي او روایتي قیصو کښې خلقو دغه بلاګانې د قرآن پاک په ایاتونو او وردونو تابع کړې دي۔

د پښتو یو شمېر شاعرانو په خپلو اشعارو کښې د بلا نوم اخستے دے۔ عبدالرحمان بابا هم په خپل یو شمېر رنګینو شعرونو کښې د بلا نوم یاد کړے دے لکه:

له هجرانه بله سخته بلا نشته
خدائے دې نۀ کاندي زخمي په دا نشتر څوک[27]

که بلا ده که جفا ده که وفا ده
دا همه واړه په ما کړۀ خدائے نازل[28]

اشنائي توره بلا ده اشنا مۀ شې
جدائي به دې فنا کړي فنا مۀ شې[29]

د رقیب طمع مې نۀ وه ستا په در کښې
په جنت کښې دې راوښود د بلا مخ (30)

چې مې نوم دا ستا د زلفو په خولۀ واخست
راپسې شوې د بلا تورې لښکرې (31)

چې مې زړۀ لره د تورو زلفو ځای غوښت
هغه زړۀ راځخه تورې بلا یوړو (32)

بیا دې مخ دے جار وتلے څۀ بلا شوه
دا بلا له کومه لوریه راپیدا شوه (33)

عاشقي ده تر جمله بلاؤ زیاته
و مجنون ته دېو و دد دواړه حیران شي (34)

هر چې واورې په بلا د تورو زلفو
هغه بیا تر کوره نۀ دي ورغلي (35)

ستا خویونه به پخپله ځان ښرګند کا
زۀ به څۀ وایم چې تۀ تر بلا تېر ئې (36)

جامِ جم:

جامِ جم یعني د ایران د لوے بادشاه جمشید جام، چې ورته تاریخي شهرت حاصل دے ، په مختلفو نومونو یاد شوے دے لکه جامِ جم، جامِ جمشید ، جامِ جهان نما ، جامِ جهان ارا ، جامِ جهان بین او پیاله وغیره۔

د جمشید بادشاه د دې جام متعلق مختلفې قیصې مشهورې دي لکه دا چې دا پیاله د نجوم د قاعدې او ضابطې تر لاندې داسې جوړه شوې وه چې به پکښې د ټولې دنیا عکس لیدۀ شو۔ او هم د دې

پيالۍ يا جام په ذريعه به بادشاه د اسمان د ستورو مقام او د هغو په وجه ښۀ او بد اثرات او د دنيا حالات او واقعات معلومولے شول۔

د جمشيد بادشاه د دې جام سره تړلي رواياتو لمن دومره ارته او فراخه ده چې د فارسۍ اردو او پښتو شاعرۍ کښې ئې په لويه پيمانه يادؤنه شوې ده۔

عبدالرحمان بابا هم په خپلو شعرونو کښې د جامِ جم ذکر کړے دے لکه:

زۀ بې تا هسې گمان کړم چې سفال دے
که نسکور مې په لبانو جام د جم وي[37]

هغه زړۀ چې خدائے روښان کړه جام د جم شي
په دا جام کښې ورښکاره تمام عالَم شي[38]

که نصيب مې شي کوغالے ستا د سپيو
او به نۀ کړم نور نظر په جام د جم کښې[39]

چې خوناب ئې د چشمانو مئے ناب شي
پيوسته له دغه جامه سره جم وي[40]

آبِ حيات، حضرت خضر:

د آبِ حيات يعني د ژوند د اوبو پحقله دغه روايت موجود دے چې لرې چرته په يوځائے کښې کوم ته چې د انسان رسائي ممکن نۀ ده، يوه چينه ده چې د آبِ حيات چينه بللے شي۔ د دغې چينې د اوبو په څښلو سره تر قيامته ژوند تر لاسه کېږي۔

وائي چې حضرت خضر عليه السلام، څوک چې د مسلمانانو د عقيدې مطابق پېغمبر يا ولي الله دے، د دغه چينې اوبۀ څښلي دي او تر قيامته به ژوندے وي۔ په دغه وجه آبِ حيات ته آبِ خضر هم وئيلے کېږي۔ حضرت خضر عليه السلام په يو شمېر اولسي قيصو کښې د خوارو، بې کسو او بې وسه خلقو مرسته او مدد کړے دے۔ او لاره ئې ورته ښودلې ده۔

د نورو شاعرانو غوندې رحمان بابا هم دغه توکي د خپلې شاعرۍ ښکلا گرځولې ده او په يو شمېر شعرونو کښې ئې د آبِ حيات او خضر لفظونه راوړي دي لکه:

---

لکه خضر هسې پاسه
اوبۀ اوخښنه د بقا[41]

زۀ چې یار لره ورځم په هغې لارې
مهتر خضر مهتر الیاس مې رهبران کړې[42]

که مې اصل د حیاتو د اوبو دے
بیا خو دا چې د اوبو په سر حباب یم[43]

څوک په سپینه ږیره پائي تر قیامته
دۀ په خضر باندې کړے دا احسان دے[44]

آبِ حیات چې حیات بیا مونده
ستا د شونډو له سببه[45]

که اوبۀ دي د حیاتو په تور تم کښې
ساده رویو ما راکړې بې ظلمته[46]

مخ د ترکو چې تر آب و حیات صاف دے
زۀ دې آب و حیات سوے یم په نار کښې[47]

څو ئې خپله مدعا حاصله نۀ وي
مهرویان په خولۀ د خضر سودا نۀ کا[48]

د اُمید مزے ئې هسې رنګ دراز وي
چې تر خضره ورته خپل عمر بسیار شي[49]

رهبـــــري د ګمراهـــــانو تـــــهٔ کـــــړې خضـــــر
عاشـــــقانو لـــــره خضـــــر ســـــتا رېبـــــار دے[50]

لـــــب دې آبِ حیـــــات دي یـــــا شـــــکرې یـــــا نبـــــات دي
یـــــا خـــــو زهٔ غلـــــط شـــــوم تـــــر همـــــه واړو بهتـــــر دي[51]

ښاپېرۍ:

ښاپېرۍ یو خیالي او فرضي مخلوق دے، چې ډېر ښکلے ګڼلے شي۔ ښاپېرے د مذکر او ښاپېرۍ د مؤنث په طور راوړلے شي۔ په عوامو کښې د ښاپېریانو متعلق یو شمېر فرضي قیصې مشهورې دي۔

پښتو اکېډیمي لغت لیکي چې:

"یو فرضي نُوراني مخلوق دے ، چې بنیادمو ته عـام طور نهٔ ښکاري۔ دا مخلوق الوتے شي او په ان فن کښې د دنیا د یو سر نه بل سره ته رسېدے شي۔ کله کله بنیادمو ته هم ځان ښکاره کړي او بنیادم پرې مئین شي۔"[52]

وائي چې دا مخلوق د کوهِ قاف نه شاته اوسېږي، چرته چې د پېریانو او دېوانو بادشاهي ده۔ د ځینې خلقو په عقیده د کشمالو په بوټي کښې هم ښاپېریان وي لکه چې د دې ټپې نه ظاهره ده:

په کشمالو کښې مې حلال کړه
چـې جـنازه مـې ښـاپـېري اوچـتویـــنه

د عبدالرحمان بابا په دغه شعر کښې هم د دې فرضي نُوراني مخلوق ذکر شوے دے۔

ښـــهٔ اثـــر بـــه ئـــې د عقـــل وي پـــه ســـر کښـــې
د هغـــو پـــه ســـر چـــې کښـــېني ښـــاپېرۍ[53]

عرض دا چې عبدالرحمان بابا د نورو ډېرو شعري موضوعاتو سره سره په دغه موضوع هم خپل کلام ته ښکلا بخښلې ده او دغه موهومي تصوراتي توکي ئې په خپلو اشعارو کښې د تل د پاره خوندي او محفوظ کړي دي۔ دغه رنګ که یو اړخ ته ئې د دغه توکو په ذریعه د ټولنې عکاسي کړې ده نو بل اړخ ته ئې د پښتو شعر و ادب موضوعاتي تنوع هم پیاوړې کړې ده۔

-----------------------------------------------------

## حوالې


1 "پښتو لغت درياب"، قلندر مومند ، فريد صحرائي، اېن- ډبليو- اېف- پي- ټېکسټ بُک بورډ پېښور، اميد پرنټرز، دربار مارکيټ، لاهور، ۱۹۹۱ء، مخ ۳۹۳

2 علي خېل درياب، بادشاه روم، ډاکټر، "پښتانۀ او توهمات"، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، ستمبر ۲۰۱۹ء، مخ ۱۵

3 داؤد، داور خان، پروفېسر، "خوشحال او فولکلور"، پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون، فروري ۲۰۰۶ء، مخ ۱۳۹

4 شکېب عبدالظاهر، ډاکټر (تقريظ) "پښتانۀ او توهمات" از بادشاه روم علي خېل درياب، اعراف پرنټرز محله جنګي، پېښور، ستمبر ۲۰۱۹ء، مخ ۱۰

5 منګل، علي محمد، "استاد الفت او فولکلور"، د افغان د علومو اکادمي، ۱۳۸۸ هـ ش، مخ ۵۵

6 "پښتو اکېډيمي لغت"، پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي، ۲۰۱۹ء، مخ ۹۹۷

7 خټک، فضل مير، "فضليات (د پښتو ادبي اصطلاحات"، ۱۹۹۹ء، مخ ۲۳۹

8 عبدالرحمان بابا، "د عبدالرحمان بابا ديوان" (مقدمه) ميا سيد رسول رسا، يونيورسټي بُک اېجنسي، خيبر بازار پېښور، مخ ۳۸

9 همدغه اثر، مخ ۷۱

10 همدغه اثر، مخ ۱۵۷

11 شوق، شوکت علی، "اُردو شاعری کی نادر تلمیحات"، جدون پرنٹنگ پریس خیبر بازار، پشاور، 2015ء، 192

12 پښتو اکېډيمي لغت، مخ ۱۱۳۷

13 عبدالرحمان بابا، د عبد الرحمان بابا ديوان، مخ ۱۵۵

14 منګل، علي محمد، استاد الفت او فولکلور، مخ ۵۹

15 عبدالرحمان بابا، د عبدالرحمان بابا ديوان، مخ ۲۱

16 همدغه اثر، مخ ۷۸

17 همدغه اثر، مخ ۱۱۲

18 همدغه اثر، مخ ۱۱۳

19 همدغه اثر، مخ ۲۰۳

20 همدغه اثر، مخ ۵۱

21 همدغه اثر، مخ ۵۸

22 همدغه اثر، مخ ۶۰
23 همدغه اثر، مخ ۶۶
24 همدغه اثر، مخ ۱۰۰
25 همدغه اثر، مخ ۱۵۹
26 همدغه اثر، مخ ۲۱۷-۱۸
27 همدغه اثر، مخ ۶۷
28 همدغه اثر، مخ ۷۲
29 همدغه اثر، مخ ۹۹
30 همدغه اثر، مخ ۱۳۳
31 همدغه اثر، مخ ۱۳۹
32 همدغه اثر، مخ ۱۵۰
33 همدغه اثر، مخ ۲۰۳
34 همدغه اثر، مخ ۲۲۸
35 همدغه اثر، مخ ۲۷۷
36 همدغه اثر، مخ ۲۵۰
37 همدغه اثر، مخ ۹۱
38 همدغه اثر، مخ ۹۶
39 همدغه اثر، مخ ۱۶۲
40 همدغه اثر، مخ ۲۱۵
41 همدغه اثر، مخ ۲۱
42 همدغه اثر، مخ ۴۷
43 همدغه اثر، مخ ۷۶
44 همدغه اثر، مخ ۱۰۳
45 همدغه اثر، مخ ۱۲۱
46 همدغه اثر، مخ ۱۲۷
47 همدغه اثر، مخ ۱۶۲
48 همدغه اثر، مخ ۱۷۶
49 همدغه اثر، مخ ۲۱۱

50 همدغه اثر، مخ ۲۱۹
51 همدغه اثر، مخ ۲۲۳
52 پښتو اکېډیمي لغت، مخ ۱۱۲۹
53 عبدالرحمان بابا ، د عبدالرحمان بابا دیوان، مخ ۸۸

# References:


1) Pakhto, Lughat, Daryab, Qalandar Mumand, Farid Sehrai, N.W.F.P Text Book Board Pekhawar, Umeed Printers, Darbar Market, Lahore, 1994, Makh, 393
2) Ali Khel Daryab, Badshah e Room, Dr, Pukhtana ao Tawahumat, Aaraf Printers, Muhallah Jangi Pekhawar, September 2019, Makh 15
3) Dawood, Dawar Khan, Proffesor, Khushal ao Folklore, Pakhto Academy, Pekhawar Pohantoon, February 2006, Makh 139
4) Shokaib, Abdul Zahir, Dr, (Taqreez) Pukhtana ao Tawahumat, Az Badsha e Room, Aaraf Printers, Muhallah Jangi Pekhawar, September 2019, Makh 10
5) Mangal, Ali Muhammad, Ustad Ulfat ao Folklore, Da Afghan da Uloomo Academy, 1388, He, Sheen, Makh 55
6) Pakhto Academy Lughat, Pakhto Academy Pekhawar University, 2019, Makh 997
7) Khattak, Fazal Meer, Fuzlyat (Da Pakhto Adabi Istelahat), 1999, Makh 239
8) Abdur Rahman Baba, Da Abdur Rahman Baba Dewan, (Muqadima) Mia Syed Rasool Rasa, University Book Agency, Khyber Bazar Pekhawar, Makh 38
9) Humdagha Asar, Makh 71
10) Humdagha Asar, Makh 157
11) Shaoq, Shoukat Ali, Urdu Shairi Ki Nadir Talmehaat, Jaddon Printing Press, Khyber Bazar, Pekhawar, 2015, Makh 192
12) Pakhto Academy Lughat, Makh 1137
13) Abdur Rahman Baba , Da Abdur Rahman Baba Dewan, Makh 155
14) Mangal, Ali Muhammad, Ustad Ulfat ao Folklore, Makh 59
15) Abdur Rahman Baba , Da Abdur Rahman Baba Dewan, Makh 21
16) Humdagha Asar, Makh 78
17) Humdagha Asar, Makh 112
18) Humdagha Asar, Makh 113
19) Humdagha Asar, Makh 203
20) Humdagha Asar, Makh 51
21) Humdagha Asar, Makh 58
22) Humdagha Asar, Makh 60
23) Humdagha Asar, Makh 66
24) Humdagha Asar, Makh 100
25) Humdagha Asar, Makh 159
26) Humdagha Asar, Makh 21718
27) Humdagha Asar, Makh 68
28) Humdagha Asar, Makh 72
29) Humdagha Asar, Makh 99

30) Humdagha Asar, Makh 133
31) Humdagha Asar, Makh 139
32) Humdagha Asar, Makh 150
33) Humdagha Asar, Makh 203
34) Humdagha Asar, Makh 228
35) Humdagha Asar, Makh 247
36) Humdagha Asar, Makh 250
37) Humdagha Asar, Makh 91
38) Humdagha Asar, Makh 96
39) Humdagha Asar, Makh 162
40) Humdagha Asar, Makh 215
41) Humdagha Asar, Makh 21
42) Humdagha Asar, Makh 47
43) Humdagha Asar, Makh 76
44) Humdagha Asar, Makh 103
45) Humdagha Asar, Makh 121
46) Humdagha Asar, Makh 127
47) Humdagha Asar, Makh 162
48) Humdagha Asar, Makh 176
49) Humdagha Asar, Makh 211
50) Humdagha Asar, Makh 219
51) Humdagha Asar, Makh 223
52) Pakhto Academy Lughat, Makh 1129
53) Abdur Rahman Baba, Da Abdur Rahman Baba Dewan, Makh 88